AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویگ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۴/۲۰

# د افغانستان بایوگرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(پنځه دیرشمه برخه)

### سید حسن ګیلاني

په ۱۸۶۲ز کال کې په بغداد کې زیږېدلی دئ. سید حسن ګیلاني د سید علي ګیلاني زوی، د سید سلمان ګیلاني زوی چې د امام حسن رض له اعقابو څخه وو، امام حسن د امام امیر المؤمنین علي رض زوی او علي د ابي طالب زوی. په دې توګه د د بغداد د نقیب الاشرف په کورنی پورې اړه لري. سید حسن ګیلاني په ۱۹۰۵ ز کال کې افغانستان ته راغی چې په افغانستان کې د قادریه د طریقت د لار رویانو او د افغانستان د پادشاه له پلوه ورته تود هرکلی وویل سو. امیر حبیب الله خان ورته د ۳۵۰۰ روپیو میاشتنۍ تخصیصیه وټاکله او جلال ته نېږدې په چهار باغ کې ئې ورته د ژمي یو استوګنځی ودان کړ. چې په دې توګه ئې د چهار باغ د نقیب په نوم او همدا شان د خپل مورني ټاټوبي د بغداد د پیر نقیب په نوم ئې شهرت وموند. سید حسن ګیلاني له ۱۸۹۸ز کال مخکې غوښتل افغانستان ته راسي خو امیر عبدالرحمن خان ورته اجازه ورنـهٔ کړه چې افغانستان ته ننوځي. له همدې کبله ئې درې کاله په هندوستان تېر کړل. له بغداد څخه د وتلو او افغانستان ته د راتللو دلایل : له خپل مشر ورور سید عبدالرحمن ګیلاني سره عدم موافقت؛ سید عبدالرحمن ګیلاني په کورنی کې تر ټولو مشر او د بغداد نقیب الاشرف وو. دهٔ غوښتل د خپل ورور د غوښتنې برخلاف وادهٔ وکړي – او که سید احمد ګیلاني هر چیرې تللی وای- د خپل مشر ورور د نفوذ له کبله بېرته راستنول کېدهٔ. له دې کبله دی افغانستان ته ځکه راغی چې د عثماني سترواکۍ برخه نـهٔ وو. افغانستان یو حنفي مسلمان هېواد دئ نو ځکه د قادریه د طریقې پېروان هم په کې ډېر دي. هغو افغان زایرینو چې بغداد کې ئې د شیخ عبدالقادر ګیلاني زیارت کاوهٔ سید حسن ګیلاني ته پر هغـهٔ باندې د ـافغانانوـ د ټینګې عقیدې، د هغـهٔ د روح د پاکۍ او شخصیت په هکله وویل او همدا شان ئې له خپلې ژبې سره آشنا کړ. ددې تر څنګ د سید حسن ګیلاني وفاداره پیرو محمود توخي یو افغان رعیت دهٔ ته د افغانانو د ښـهٔ حسن نیت په هکله وویل. له همدې کبله ئې پرېکړه وکړه چې افغانستان ته سفر وکړي. د خلکو باور او د افغانستان د پادشاه ټینګار اړ ایست چې افغان تابعیت واخلي او په افغانستان کې پاتې سي. سید حسن ځکه د افغانانو د زښت ډېر درناوي وړ وګرځېد چې د قادریه د ژوند د یوې بېلګې په سترګو ئې ورته کتل. امیر حبیب الله خان او سردار عنایت الله خان ورته له حده وتلی درناوی درلود. سید حسن ګیلاني له برتانویانو سره مرسته وکړه چې خپل دیپلوماتان، سردار عنایت الله خان او نور له جلال آباده د هوا له لاري وباسي. په ۱۹۳۱ او په ۱۹۳۲ز کلونو کې ئې هڅې وکړې چې په بلوخستان کې د غلزیو د بریدونو مخه ونیسي. په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

۱۹۳۱ز کال کي ئـي د اعليحضرت نادرشاه په ملاتړ يو فرمان صادر کړ. د ۱۹۳۴ز کال په دوبي کي ئـي له کابل څخه ليدنه وکړه خو په ډېر ځرګند توپير ورسره چلند وسو. د ۱۹۳۵ز کال د جولای په مياشت کي کابل ته ورسېد. ورارهٔ ئـي پير علي حيدرشاه وو

چي په افغانستان کي ئـي زښت ډېرشهرت او نفوذ موندلی وو. سيد حسن ګيلاني له خپلي لومړۍ مېرمني څخه د فاطمي په نوم يوه لور او له خپلي څلورمي مېرمني څخه ئـي د سيد علي ګيلاني او سيد احمد ګيلاني په نومونو دوه زامن درلودل. نوموړی په ۱۹۴۱ز کال کي د مغزي خون ريزۍ له کبله وفات سو او په جلال آباد کي د چارباغ په خپل باغ کي خاورو ته وسپارل سو. دوهم زوی ئـي چي افندي جان نومېږي له يوې محمدزۍ مېرمني سره واده کړی دئ، د همدې مېرمني مور د امير حبيب الله خان يوه لور وه.*

## محمد اکرم ګيزابي

هزاره دئ. د حاجي محمد علم زوی په ۱۹۴۷ز کال کي د کابل په چندا ول کي زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۸ز کال کي د غازي له ليسي فارغ سوی دئ. او په ۱۹۷۵ز کال کي ئـي د (اې. آي. ډي فيلو شيب) [1] تر سيوري لاندي د کرني په برخي کي خپل ليسانس د بيروت له امريکايي پوهنتون څخه تر لاسه کړ. افغانستان ته راستون سو او په ۱۹۷۸ز کال کي د عسکري د مکلفيت دورې له بشپړولو وروسته ئـي د لسو مياشتو لپاره د افغان کيمياوي سرې د کمپنۍ لپاره کار وکړ. په ۱۹۷۹ز کال کي ئـي خپله دنده پرېښودله او په دولتي ضد مخفي فعاليتونو کي ښکېل سو. د (جبهـهٔ مبارزين-مجاهدين افغانستان) د بنسټ اېښودونکو د ډلي يو غړی؛ دا د پينځو ډلو يو اتحاد وو چي د بالاحصار پاڅون ئـي سمبال کړی وو. د اتحاد له پاشل کېدلو وروسته د بهسوديانو، تورکمنانو او غلزيانو د مقاومت له ډلو سره ئـي همکاري وکړه. په ۱۹۸۰ز کال کي له کابله ووت او کويټې، پاکستان ته لاړ او دلته د اتحاديـهٔ مجاهدين اسلامي افغانستان مرستيال رئـيس سو. په ۱۹۸۱ز کال کي ئـي په جاغوري، مالستان او آجرستان کي فعاليت وکړ. د افغان مقاومت لپاره ئـي باندني سفرونه وکړل. د امريکا غږ د راډيو لپاره سيمه ييز خبريال چي وروسته په ۱۹۸۵ز کال کي په واشنګټن ډي. سي. کي د امريکا غږ له کارمندانو سره يو ځای سو. نوموړي يو کتاب او يو شمېر مقالات ليکلي دي او د هزاره ګانو د تأريخ په اړوند ئـي څو کتابونه ليکلي دي.

## دوست محمد ګورګيچ بلوڅ

په زرنج کي د بلوڅانو يو قومي مشر. تر ۱۹۷۳ز کال پوري د ولسي جرګي غړی. د (ستر اسلامي جهاد د تنظيم) [2] رئـيس. په ۱۹۸۲ز کال کي په کويټې کي د پخواني پادشاه ظاهر شاه په پلوي د لويې جرګي چارسمبال يا منتظم.

**حاجي اسمٰعيل سياه ګوزوک** : وګورئ : سياه

1 -AID Fellowship

2 - Organization of Great Islamic Jehad



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

## سید صدیق گوهري

د محمد عثمان زوی په ۱۸۸۶ز کال کې په بلخ کې زېږېدلی دئ. له خپل ورور او نورو علماو څخه ئې عربي علوم او خطاطي زده کړې ده. په مزار شریف کې ئې د رئیس باشي په مدرسې کې د لسو کالو لپاره تدریس وکړ. د شاعر په نوم هم شهرت لري. مکې مکرمې ته د حج لپاره لاړ او هماغلته په مدینې کې وفات سو.

## انعام الحق گران

د انور الحق زوی، یو پښتون او په هند کې زېږېدلی دئ. د آریانا افغان هوایي شرکت مشر پیلوټ. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۵۹ز کال پورې د امریکا د متحده ایالاتو په پارکس ایير کالج[3] کې؛ په ۱۹۶۴ز کال کې ئې په نیو یورک پان امیریکن[4] کې؛ او په ۱۹۶۵ز کال کې ئې د لبنان سي ول اوي ایشن سیفتي سنتر[5] د لبنان د هوایي ملکي په امنیتي مرکز کې د پیلوټي روزنه ولیدله. د ۱۹۷۷ز کال د آگست په لومړی نیټې د ناپېژاندو وسلوالو له پلوه ووژل سو،دا وژنه د هوایي شرکت د پرسونل د اعتصاب لامل سوه. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده.

## محمد عظیم گران

په ۱۹۲۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. تحصیلات ئې د حبیبیې په لیسې، هندوستان او په ۱۹۶۴ز کال ئې په لندن کې کړي دي. په ۱۹۶۵ز کال کې د مخابراتو د وزارت مرستیال وزیر او له ۱۹۶۷ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د مخابراتو وزیر. په ۱۹۸۳ز کال کې له افغانستانه ووت او په جرمني کې ژوند کوي.

### ډگر جنرال سید محمد گلاب زوی

د گلاب شاه زوی په ۱۹۴۵ز کال کې د پکتیا په ولایت کې زېږېدلی دئ. خپل لومړني او منځني ښوونځي ئې په نادرشاه کوټ بشپړ کړي دي. د هوایي ځواک کورسونو کې ئې گډون کړی دئ. په ۱۹۶۶ز کال کې په مزار شریف کې پوځي افسر. په ۱۹۶۹ز کال کې ئې د خواجه رواش په پوځي هوایي ډگر کې خدمت کړی دئ. په لومړیو کې د افغان ملت د گوند پلوی او همفکره وو. پښتونیزم ئې د مارکسیستي لېوالتیا پر بنسټ په ولس باوری باندې واوښت. په ۱۹۷۳ز کال کې ئې د سلطنت پر ضد کودتا کې گډون وکړ. د هوایي ځواک د بولندوی د یاور په توگه مقرر سو او په ۱۹۷۶ز کال کې د لوړو زده کړو لپاره شوروي اتحاد ته لاړ. د غوایي له پاڅون وروسته د ولسمشر تره کي د یاور په توگه وگومارل سو. د ۱۹۷۸ز کال د اکتوبر په میاشت کې د مخابراتو وزیر. د ۱۹۷۹ز کال د سپتمبر په میاشت کې له کاره وشړل سو او د پرچمیانو د رژیم تر راتگ پورې تری تم سو. د ۱۹۸۰ز کال د جنوری د میاشتې له ۱۱ راهیسي د کورنیو چارو وزیر.

## جنرال گل آقا

د کابل په ختیځ کې د کمریو په کلي کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئې د استقلال په لیسې او د فرانسې او شوروي اتحاد په پوځي ښوونځیو کې کړې دي. د ۱۹۷۸ز کال د نوامبر په میاشت کې د هرات والي او د وسله وال ځواک بولندوی.

[3] -U.S. Parks Air Collage
[4] - New York Pan Am
[5] - Lebanon Civil Aviation Safety Center


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د رتبې په تنزیل سره د احتیاط افسر سو. په چکوسلواکیا کې له ببرک کارمل سره یو ځای سو. له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۲ز کال پورې د وسله وال ځواک د سیاسي چارو رئیس. د مرکزي کمیټې غړی. د انقلابي شورى د رئیسه هیئت مرستیال رئیس.

## جنرال گلبهار خان

د محمد هاشم زوی په پکتیا کې زېږېدلی دئ. په حربي پوهنتون کې ئې تحصیلات وکړل او په ۱۹۴۳ز کال کې پیلوټ سو.الوتکه ئې په ۱۹۴۵ز کال کې په کونړ کې د صافیانو د کورنۍ جگړې پر مهال وغورځېده. په ۱۹۵۶ز کال کې د «هوایي ملکي» [6] مسؤول. د هوایي مدافعې د ځواکونو بولندوی. په ۱۹۵۶ز کال کې د امریکا په متحده ایالاتو او په ۱۹۶۴ او ۱۹۶۷زو کلونو کې ئې د نیویارک په پان امیریکن کې روزنه ولیدله. تر ۱۹۷۳ز کال پورې د آریانا افغان هوایي شرکت رئیس. ولسمشر داؤود له کاره برطرفه کړ.

## گل جان

د غوایي له پاڅون وروسته د آفسوتر AFSOTR د سوداگریزې اتحادیې رئیس.

## نور بیا

## خزانگل گل

تحصیلات ئې په جرمني کې د ریاضیاتو او فزیک په څانگې کې کړي دي. په...

[قدرمنو لوستونکو! د بناعلي رحمت آریا د آرشیف: لینک]

[6] -Civil Aviation


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ